# نه بشپړ
# شوي
# دنده

AMNESTY
INTERNATIONAL

Amnesty International Publications

First published in 2014 by
Amnesty International Publications
International Secretariat
Peter Benenson House
1 Easton Street
London WC1X 0DW
United Kingdom
www.amnesty.org

© Amnesty International Publications 2014

Index: 11/008/2014
Original Language: English
Printed by Amnesty International, International Secretariat, United Kingdom

All rights reserved. This publication is copyright, but may be reproduced by any method without fee for advocacy, campaigning and teaching purposes, but not for resale. The copyright holders request that all such use be registered with them for impact assessment purposes. For copying in any other circumstances, or for reuse in other publications, or for translation or adaptation, prior written permission must be obtained from the publishers, and a fee may be payable. To request permission, or for any other inquiries, please contact copyright@amnesty.org

Cover photo: ASSOCIATED PRESS/KHALID KHAN

Amnesty International is a global movement of more than 3 million supporters, members and activists in more than 150 countries and territories who campaign to end grave abuses of human rights.

Our vision is for every person to enjoy all the rights enshrined in the Universal Declaration of Human Rights and other international human rights standards.

We are independent of any government, political ideology, economic interest or religion and are funded mainly by our membership and public donations.

AMNESTY
INTERNATIONAL

## په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو لخوا د پوځي عملیاتو له امله د ملکي مرګ ژوبلې په شفافیت او حساب ورکونې کې پاتې راتلل

*تاسو نه بخښو. مونږ تاسو پیسو ته اړتیا نلرو، مونږ غواړو چې مجرمین محاکمه شي. مونږ*

*محمد نبي چې د هغه شل کلن ورور ګل نبي سره له نورو څلورو ځوانانو سره د یوه هلیکوپټر په برید کې جلال آباد ته څېرمه د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر په څلورمه ووژل شه.*

**لنډیز**

د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې کله چې د ښځو یوه ډله د لغمان ولایت په یوه غرنیزه سیمه کې لرګي ټولول د یوې امریکایي الوتکه پرې دوه بمبونه وغورځول. اووه تنه ښځې او نجونې ووژل شوې او اووه تنه نورې یې ټپیانې شوې چې د څلورو حالت یې خطرناک ؤ. میتالام بي بي چې ۱۶ کاله عمر لري ژوندې پاتې شوه خو په یوه سترګه ړنده شوه. د هغې د تره لور عاقله بي بي چې ۱۸ کاله عمر لري هم ورته حالت درلود.

غلام نور چې یو سپین ږیری بزګر دی خپله ۱۶ کلنه لور چې بي بي حلیمه نومیده له لاسه ورکړه. کله چې غلام نور او د کورنۍ نور غړي د نړیوالو ځواکونو دا ادعا واوریده چې په برید کې یوازې اورپکي وژل شوي دي، د خپلو ښځو مړي یې د ولسوالی مرکز یعنی مهترلام ته

زه هیڅ توان نلرم چې له نړیوالو ځواکونو څخه پوښته وکړم چې هغوی ولې دا کار وکړ. زه سره لدې چې د سیمې یو شمیر کلیوال پدې هکله ولسوال او والي سره رسمي شکایتونه درج کړي، دغه ډول شکایتونه هیڅ ځای نشي نیولای پدې خاطر چې په افغانستان کې نړیوال ځواکونه د هیواد قانون ته ځواب ورکونکي ندي.

تر اوسه هیڅوک له غلام نور او د کورنۍ نورو غړو سره په اړیکه شوی نده تر څو د برید قانونیت او وضعیت په باب پلټنه وکړي. د کورنۍ هیڅ غړي ته ویل شوي ندي چې ولې دغه برید ترسره شه او هیڅ توجیه ورته وړاندې شوې نده.

د لغمان بمبارد له زیاتو نورو قضیو څخه یوه قضیه ده. د ۲۰۰۱ کال څخه راپدیخوا په زرګونو ملکي افغانان د بهرنیو ځواکونو لخوا وژل شوي او زرګونه نور ټپیان شوي.[1] د ملکي کسانو د

[1] د بخښنې نړیوال سازمان پوهیږي چې په وروستیو کلونو کې ملکي د مرګ ژوبلې زیاته برخه د طالبانو او د نورو مخالفو ډلو عملیاتو له امله منځته راځي. دغه ډلې د ملکي خلکو ساتنې کې پاتې راغلي، له ملکي خلکو څخه یې د انساني سپر په توګه کټه پورته کړې او په یو شمیر حالاتو

وژلو د پېښو لکه په ګردیز کې د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ میاشتې پېښه چې جنګي جنایت بلل کېږي، څېړنه نکېږي او عاملین یې نه محاکمه کېږي. په اکثریتو پېښو کې سره لدې چې شواهد ښیي چې وژنه غیر قانوني ده، د قربانیانو د کورنۍ غړي عدالت ته د لاسرسی هیڅ کومه لاره نلري.

دغه رپوټ د ملکي وژنې پېښو روڼوالی او شفافیت چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۳ کال ترمنځ د نړیوالو ځواکونو لخوا ترسره شوي، تر مطالعې لاندې نیسي.

په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو اکثریت شمیر امریکایي قوتونه تشکیلوي چې د ملکي وژنې پوزیات شمیر پېښو کې ښکیل دي. لدې کبله دغه رپوټ په تیره بیا د ملکي مرګ ژوبلې په تړاو ممکنه جنګي جنایاتو په حالت کې د امریکې حکومت کړنې تر مطالعې لاندې نیسي. په ټولیز ډول ددې رپوټ موندنه داده چې د امریکې حکومت د کړنې کچه ډیره ټیټه ده.

په ملکي خلکو د پوځي بریدونو ۱۲۵ تنه قربانیانو، کورنۍ غړیو او شاهدانو سره د مرکو او د اسنادو مطالعې پر بنسټ دا قضاوت کولای شو چې د امریکایي ځواکونو د څېړنې او عدلي تعقیب کړنه له اړین حده ډیره ټیټه ده. په ډیرو پېښو کې چې ملکي خلکو ته د غیرقانوني مرګ ژوبله اوښتو په باب معتبر شواهد موجود دي، ځواکونه پدې کې پاتې راغلي چې چټک، بشپړ او بې طرفه څېړنه په لاره واچوي.

خو امریکایي چارواکي د دې خبرې بالعکس ادعا لري. جوزف دانفورد چې د نړیوال ائتلافي او وعده یې وکړه تر څو د پروسږکال ټولې پېښې وڅېړي.[2] خو که د بریدونو ډولونو لکه ځانګړو ځواکونو د شپې لخوا بریدونه، هوايي بریدونه، او د بې پیلوټه الوتکې بریدونو ته ځیر شو ښکاره کیږي چې دغه وعده ورکړ شوې څېړنې هیڅکله هم ترسره شوې ندي.

د نړیوال بشري قانون (د جګړې قانون) پر بنسټ د هر ملکي کس وژل کیدل له قانون څخه سرغړونه نده. خو که ملکي کسان په قصدي، بې توپیره او بې تناسب ډول ووژل شي، دغه ډول پیښه باید په چټک، بشپړ او بی طرفه توګه د څېړنې ته سوق شي. که څېړنه وښیي چې د جګړې له قانون څخه سرغړونه شوې نو باید قضیه عدلي تعقیب ته وړاندې شي.

د بخښنې نړیوال سازمان د امریکې پوځ عدلي سیستم کې مهمې نیمګړتیاوې په نښه کړي چې د ملکي کسانو په وړاندې د جنایاتو په څېړنې او عدلي تعقیب کې خنډ واقع کیږي. تر ټولو مهم داچې د پوځ عدلي سیستم د قومندان لخوا اداره کیږي او په ډیرو حالاتو کې د عملیاتو د قانونیت په باب د سرتیرو پر ویناوو اتکأ کیږي. څرنګه چې د دفاع د قانوني پالیسي بورد د ۲۰۱۳ رپوټ لیکي چې د دغه سیستم کړنه د سرتیرو لومړنیو رپوټ پر بنسټ ولاړه ده. په زیاتو حالاتو کې دغه خپل ځانته د پولیسی خدماتو برابرولو سیستم دی. که سرتیري د سرغړونو راپور ورکړي یو څه مکافات ورته ورکول کیږي خو ډیر دلایل موجود دي چې پر بنسټ یې سرتیری له راپور ورکولو څخه ډډه کوي. قومندانان هم ډیر مجبوریت نلري ترڅو د څېړنې په وړاندې ولاړ شي په تیره بیا

---

کې یې ملکي خلک په مستقیمه توګه په نښه کړي چې د جګړې له قانون څخه سرغړاوی بلل کیږي. د یوناما رپوټ پر بنسټ، په ۲۰۱۳ کال کې یاغي ډلې د ملکي مرګ ژوبلې د ۳/۴ برخې مسولیت په غاړه لري په داسې حال کې چې یوازې ٪۵ یې د نړیوالو ځواکونو په اوږو ولیږي. سره لدې چې اوسنی رپوټ په دغه موضوع باندې تمرکز نلري، د بخښنې نړیوال سازمان ملکي خلکو باندې ټول بریدونه غندي او د طالبانو او نورو ډلو په لاس دغه زیاتوالی په باب اندیښنه څرګندوي.

2 بینکا هال، "آسترالیایي سرتیري د یوه افغان سړي د مړي په سپکاوي تورن ده." سدني مارننګ هیرالد، د ۲۰۱۳ کال د اګست میاشتې ۳۰

کله چې د قومندان کارايي يا قضاوت تر پوښتنې لاندې راشي. له دې کبله چې د پوځ عدلي سيستم د عدلي تعقيب خپلواک چارواکي نلري، دا قومندان دی چې تصميم نيسي چې يوه قضيه محکمې ته راجع شي، په اداري توګه حل شي او يا فسخ شي که نه. هر عدلي تعقيب د تورن سرتيري د قومندان لخوا ويټو کيدای شی حتی که د عدالت په ګټه هم وي. ددې خنډونو شتون په صورت کې عجيبه نده چې يو کم شمير قضيې محکمې ته وړاندې کيږي. په ډير ندرت واقع کيږي چې د سرتيري همسنګران د هغه د عمل په ترڅ کې په وحشت راغلي وي او پدې ټينګار وکړي چې دغه عمل خپل قومندان ته راپور ورکړي او کله چې قومندان د عدلي تعقيب څخه حمايت وکړي. او يوازې په يو شمير حالاتو کې چې قضيه مطبوعاتي شي د ملکي مرګ ژوبلې جنايي قضيې محکمې ته وړاندې کيږي.

د بخښنې نړيوال سازمان د تيرو پنځو کلونو په ترڅ کې يوازې له شپږو قضيو څخه خبر لري چې پکښې د ملکي مرګ ژوبلې قضيې د عدلي تعقيب لاندې راغلي، د يوې قضيې په ګډون چې پکښې ۱۲ تنه تورن سرتيري محاکمه شول. د نومولو عدلي تعقيب له امله ۱۰ تنه تورن سرتيري په جدي جناياتو محکوم شول چې ۷ تنه يې د محبس ميلو شاته ليږل شوي دي. تر ټولو مشهوره قضيه د رابرت بيلز ده چې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې د شپاړلسو ملکي افغانانو په وژلو يې اعتراف وکړ او په قتل او نورو جرمونو مجرم او په ۲۰۱۳ کال کې د بخښنې پرته په ابد حبس محکوم شه.

خو يو شمير نورې جدي قضيې په پوره ډول څيړل شوي ندي. له ۱۰ څخه ۹ قضيو کې د قربانيانو له کورنۍ سره د بخښنې نړيوال سازمان په دغه رپوټ کې مستند کړي وويل چې د امريکي پوځ هغوی او نورو شاهدانو سره مرکې ندي کړي. پرته لدې چې له شاهدانو او هغو خلکو سره مرکه وشي چې واقعيتونه په مستقيمه توګه تشريح کړي دا به ستونزمنه وي چې يوه څيرنه څرنګه جدي يا بشپړه څيرنه ګڼل کيدای شي. د بشري حقونو محلي سازمانونه، د ملګرو ملتونو څيرونکي، افغان پوليس او رسنيو لخوا د قربانيانو سره مرکې شوي خو هيڅ يو يې ددې قدرت نلري چې مظنونين تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي.

رفيع الدين کشککي چې ۱۶ کلن زوي يې د ۲۰۱۰ کال په مې مياشتې کې د امريکايي خاصو هرڅه چې مو په توان کې وه وموکول ترڅو عدالت راسته راشي خو مونږ نه پوهيږو چې آيا

د کشککي بيانات هغو نورو قضيو ته ورته ده چې د بخښنې نړيوال سازمان مستند کړي. څرنګه چې هغه وايي د امريکي د پوځ په عدلي سيستم کې د روڼوالی او شفافيت نشتوالی يوه لويه نيمګړتيا ده. د امريکي پوځ پدې کې پاتې راغلی ترڅو عامه خلک، او تر ټولو مهم، قربانيان د څيرنو له پيل، دوام او پايلې په باب باخبر وساتي. دا چې آيا يو رسمي جنايي څيرنه پيل شوې که نه او يا داچې يوه څيرنه پای ته رسول شوې ده که نه او داچې ولې ورته دوام ندی ورکړل شوی، عامه خبرتيا ته نده رسول شوی.

ممکنه ده چې په يوشمير قضيو کې چې ملکي خلک په غير قانوني ډول زيان مونډلی وي پوځ يوازې اداري محدوديتونه وضع کړي چې د غير عدلي سزاګانو په نامه هم ياديږي چې په ترڅ کې يې مجرم ته سزا ورکول شوې وي. د بيلګې په ډول کسر معاش، کتبي اخطاريه او يا د رتبې راټيټول. خو پداسې حالاتو کې قضيه نه عامه کيږي او نه هم قرباني کورنۍ ته خبرتيا ورکول کيږي. يوازې هغه وخت چې قضيه د محاکمې څخه مخکې د اوريدنې مرحلې ته رسيږي، د څيرنې موجوديت عامه کيږي. نظامي محاکمه عامه ده خو يوازې يو کم شمير نظامي محاکمې چې افغان ملکي خلکو ته پکښې مرګ ژوبله اووښتې ده، دغې مرحلې ته رسيدلې.

ددې تر څنګ چې د امریکي پوځ قضیې محرمې ساتې، د ملکی مرګ ژوبلې په باب معلومات او رونوالی له ځانه سره ساتي. د څیرنې او عدلي تعقیب په باب د بخښنې نړیوال سازمان د غوښتنې ته په ځواب کې د امریکې دفاع وزارت هیڅ مهم معلومات ورنکړل. په داسې حال کې چې د امریکې دفاع وزارت په پوځ کې د جنسي تیرې په باب چې یوه ډیره مهمه موضوع ده کلنې رپوټ خپروي خو د ملکي مرګ ژوبلې د څیړنې به باب هیڅ کوم رپوټ نه خپروي. دغه یوه لویه تشه ده چې باید ډکه شي. د جنسي تیرې په اړه کلنی رپوټ چې د شکایتونو، څیړنو او عدلي تعقیب په برخو کې هر اړخیز معلومات ورکوي په راتلونکي کې د ملکي مرګ ژوبلې په اړوند دغه وزارت ته ښه مودل او لارښود بلل کیدای شي.

د رونوالی او شفافیت اوسنی میکانیزم بسیا نکوي. د امریکې حکومت د اطلاعاتو د آزادۍ سیستم چې د معلوماتو به تیارولو کې د پاتې راتلو په صورت کې رونوالی منځته راوړي، د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې په حالت کې په درسته توګه کار نکوي. د اطلاعاتو د ازادۍ فدرال قانون لاندې د ملکي مرګ ژوربلې په باب غوښتنو ته ځواب ډیر سوکه او یا هم ورته هیڅ ځواب نه ورکول کیږي. د بیلګې توګه د نیشن مجلی ژورنالیست رابرت دریفس د ۲۰۱۱ کال سپتمبر میاشت کې ددغه قانون لاندې په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلې په باب د امریکې دفاع وزارت څخه د معلوماتو غوښتنه وکړه. د ۲۰۱۴ کال تر جولای میاشت پورې چې له دوه نیمو کلونو څخه زیات وخت کیږي نوموړی هیڅ کوم سند په ځواب کې ترلاسه نکړ.

دغه رپوټ ۱۰ قضیې مطالعه کړي چې پکښې د ۵۰ تنو ماشومانو په ګډون لږ ترلږه ۱۴۰ تنه ملکي خلک وژل شوي دي. د بخښنې نړیوال سازمان په نظر، ټولې دغه پیښې له زور څخه د غیر قانوني او ناوړه ګټه اخیستنې اندیښنې راپورته کوي چې باید په بشپړ او بې پلوه توګه څیړنه یې وشي. له دغه قضیو څخه دوه پیښې چې د ځانګړو ځواکونو لخوا ترسره شوې جنګي جنایاتو ته ورته شواهد له ځانه سره لري – یوه یې په ۲۰۱۰ کال کې د پکتیا د خطابه کلې کې په یوه کور برید ده او بله یې د ۲۰۱۲ کال د نومبر میاشتې پیښه ده چې د میدان وردګ ولایت د نرخ او میدان ښار سیمو پیښې دي چې پکښې جبري مفقود الاثري، شکنجه او وژنې شاملې دي.

د امریکي پوځې عدالت برخې کې باید اصلاحات راشي. خو له بله پلوه یو مثبت اړخ یې داده چې اوس مهال د دغه سیستم د جنسي زورزیاتي او تیرې په برخه کې یو شمیر اصلاحاتو باندې کارکیږي. یو شمیر سناتوران د یوه قانون مسودې حمایت کړی چې د هغه قانون پر بنسټ د جدي جنایاتو په صورت کې له قومندانانو څخه د عدلي تعقیب د تصمیم نیونې حق اخیستل کیږي او نظامي خپلواک څارنوالانو ته لیږدول کیږي. سره لدې چې دغه بدلون به د امریکا چلند او کړنه له نړیوال قضایي سیستم سره عیار نکړي، بیا هم کولای شي د یو شمیر هیوادونو کچې ته ځان ورسوي. په تیرو دوو لسیزو کې یو شمیر هیوادونه د خپل نظامي عدلي سیستم کې پرمختګونه کړي او د څیړنې باندنې میکانیزمونه یې منځته راوړي چې د قوماندې سیستم څخه په جلا او خپلواکه توګه عمل کوي. یو شمیر اروپایي هیوادونه تر هغه حده اصلاحات راوستلي چې د بشري حقونو سرغړونې چې د پوځ لخوا ترسره کیږي د ملکي قاضیانو لخوا تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې نیول کیږي.

سره لدې چې په راتلونکي کې بنیادي اصلاحات اړین دي، دې ته هم اړتیا شته چې افغان کورنیو ته چې خپل غړي یې په تیرو کلونو کې له لاسه ورکړي، عدالت تامین شي. پدې وروستیو کې د امریکې پوځ په عراق کې ۲۰۰۷ کال کې د دوو تنو ملکي ځوانانو وژل کیدو په باب څیړنې پیل کړې سره لدې چې د جنایت له ارتکاب څخه څو کاله تیر شوي وه. د بخښنې نړیوال سازمان د

امریکې پوځ څخه غوښتنه کوي چې هغه قضیو سره چې په دغه رپوټ کې بربنډ شوي ورته چلند وکړي او څیړنې یې پیل کړي.

پداسې حال کې چې د امریکې پوځ ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان څخه وځي، دغه پوښتنو لپاره ښه فرصت ته. لږ ترلږه په وروستیو کلونو کې نړیوال ځواکونه کوښښ کړی چې ملکي کسانو ته زیان ونرسوي. او د طالبانو او افغان ملي ځواکونو په پرتله د کمو ملکي تلفاتو مسئولیت پرغاړه لري. که نړیوال ځواکونه پرته لدې چې د ملکي مرگ ژوبلې قضیې وڅیړي له هیواد څخه ووځي، د دوی د بدنامۍ لامل به وګرځي.

## میتودولوژي

د بخښنې نړیوال سازمان هیئت په افغانستان کې د ۲۰۱۳ جولای او د ۲۰۱۴ مارچ میاشتو پلټنې تر سره کړې چې په ترڅ کې یې د نړیوالو ځواکونو عملیاتو له ملکي ژوندي پاتې شویو خلکو، د قربانیانو د کورنۍ غړیو او عیني شاهدانو سره مرکې ترسره کړې. په ټولیز ډول، ۱۲۵ تنه افغانانو سره د ۱۶ بریدونو په باب چې پکښې ملکي مرگ ژوبله اوښتې ده مرکې ترسره شوي. په یو زیات شمیر حالاتو کې یوازې ملکي خلک وژل شوي ؤ.[3] د هغه تر څنګ، هیئت د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۳ کال ترمنځ د ۹۷ قضیو یو دیتابیس مطالعه کړ چې په هرې قضیې کې دوه یا زیات ملکي کسان وژل شوي ؤ.

همدارنګه هیئت په هیواد کې د بشري حقونو مدافعینو، ژورنالیستانو، د مدني ټولنې غړیو، حکومتي او پولیس چارواکي او د آیساف د ملکي مرگ ژوبلې د کمښت برخې په ګډون له یو شمیر نورو اړوندو خلکو سره ولیدل. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او په کابل، ننګرهار او هرات کې د کمیسیون ملکي مرگ ژوبلې د څیړنې څانګه ډیر ګټور معلومات راکړل. همداراز د بخښنې نړیوال سازمان پلټونکي په بریتانیه، بلجیم او امریکې متحده ایالاتو کې له ژورنالیستانو، حقوق پوهانو، پوځي څارنوالانو، د ناټو چارواکو او مدني ټولنې غړو سره چې له موضوع سره آشنا ؤ، ولیدل.

## مهم وړاندیزونه

نړیوال ځواکونه په تیره بیا د امریکې متحده ایالات باید په چټکه توګه اطمینان ورکړي چې د نړیوالو ځواکونو د عملیاتو له امله د ملکي قربانیانو د کورنۍ غړي عدالت ته هر اړخیزه لاسرسی ولري. څیړنې او عدلي تعقیب کې د روڼوالی او شفافیت په برخه کې هم باید قدمونه واخیستل شي. عام خلک په تیره بیا د قربانیانو کورنیو ته د هوایي بریدونو او نورو نړیوالو پوځي عملیاتو په ترڅ کې د وژل شویو او ټپي شویو خلکو د شمیر او دا ډول پیښنو ته د حکومت ځواب په باب دقیق

[3] د مرکو زیات شمیر یې د بخښنې نړیوال سازمان غړي لخوا په دري او پښتو ژبو کې تره سره شوي، په یو شمیر حالاتو کې له ژباړونکي څخه کار اخیستل شوی ده.

معلومات وړاندې کړي.

د اصلاحاتو راوستلو لپاره د بخښني نړیوال سازمان لاندني وړاندیزونه کوي چې بشپړ لست یې د رپوټ په آخر کې هم ځای پرځای شوی ده. سازمان د دغو وړاندیزونو یو شمیر یې پخواهم وړاندې کړي ؤ خو پرې عمل ندی شوی. د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۹ په یوه رپوټ کې د غیر قضایي (له قضا څخه بهر)، صحرایي او پخپل سر اعدامونو په چاروکې د ملګرو ملتونو خاص استازی نړیوال ځواکونه وهڅول ترڅو د ملکي مرګ ژوبلو قضیو کې شفافیت او حساب ورکونه زیاته کړي.[4]

**د امریکې متحده ایالاتو حکومت ته:**

- د هرې پیښې وروسته چې د امریکې پوځ لخوا پکښې ملکي مرګ ژوبله اوښتې وي، باید چټک، بشپړ او بې طرفه څېړنه وشي، او د کافي شواهدو په صورت کې تورن په عادلانه ډول محاکمه شي پرته لدې چې ورته د مرګ یا اعدام سزا ورکول شي.
- کله چې دملکي تلفاتو په قضیو کې څېړنې وشي د هغه په باب معلومات باید په عام ډول خپاره شي او په تیره بیا د قرباني له کورنۍ سره شریک کړی شي.
- د دغه رپوټ څېړنیز معلومات باید مطالعه شي او د قرباني د کورنۍ غړي او نورو شاهدانو سره چې د لومړی لاس معلومات لري د مرکې له لارې څېړنې له سره واخیستل شي.

**ناتو ته:**

- کله چې د آیساف په نظامي عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې په باب رپوټونه خپریږي باید په هکله یې چټک، بشپړ او بې طرف څېړنې په لاره واچول شي.

**افغان حکومت ته:**

- باید له ناتو او امریکې سره په دوه اړخیز امنیتي پیمان کې د ملکي مرګ ژوبلې په هکله د شفافیت او حساب ورکونې مواد ځای پرځای شي.

باید په امریکایي او ناتو چارواکو په دوامداره ډول فشار راولي تر څو د ملکي خلکو ساتنې په برخه کې لازم ګامونه واخلي، د ملکي مرګ ژوبلې رپوټونو په باب ځیرنې وکړي او د نړیوال بشري قانون څخه سرغړونې چې د ملکي مرګ ژوبلې ل

---

[4] د فراقضایي، صحرایي او پخپل سر اعدامونو په چاروکې د ملګرو ملتونو خاص استازی د رپوټ ضمیمه: د افغانستان ماموریت، UN Doc. A/HRC/11/2Add.4 (6 May 2009), pp. 33-36